

د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

# داوراد
# ولوستل

22 جنوری 2026

# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

(1): په مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: 5 منټه (2): دُعا یادول: 5 منټه

(3): [د خپلو اعمالو] جائزه: 5 منټه، ټول وخت: 15 منټه-

نن به د زده کولو او ښودلو په **حلقو** کښې په 72 **نیک اعمال** کښې د یو نیک عمل د **اورادو د لوستلو** په باره کښې ګټه ور معلومات درکولے شي او **د کُفر او غریبۍ نه د پناه غوښتلو دُعا** به هم یادولے شي- په اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم!

## د دُرُود شریف فضیلت

**د خوږ مصطفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:**

د قیامت په ورځ به د ټولو نه ما ته زیات نزدې هغه وي چا چې په دُنیا کښې په ما باندې زیات دُرُودِ پاک لوستلے وي-[1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نیک عمل نمبر 7

امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مونږ ته د خپلې اِصلاح د پاره د سوالونو په شکل کښې د شریعت او طریقت جامِع مجموعه **نیک اعمال** رساله عطا کړې ده د پاره د دې چې مسلمانان د دې سوالونو په ذریعه د خپلو اعمالو جائزه واخلي او خپل اخرت ښه کړے شي- نن به مونږ د 72 نیک اعمال رسالې نه د **نیک عمل نمبر: 7** په باره کښې زده کوو-

**نیک عمل نمبر: 7** آیا نن تاسو د **شجرې** نه څۀ نا څۀ **اوراد** ولوستل؟

---

1...ترمذی، ابواب الوتر، باب ماجاء فی فضل الصلاۃ علی النبی صلی اللّٰہ علیہ وآلہ وسلم، صفحہ:144، حدیث:484۔

## شجره څهٔ ده؟

مشائخِ کرام خپلو مُریدانو او طالِبانو ته شجره عطا کوي، پهٔ کومه کښې چې د مختلفو اورادو او وظیفو او دعائیه شعرونو پهٔ شکل کښې د طریقت شجره هم وي- اَلْحَمْدُلِلّٰه! دغه شان امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه هم د خپلو مُریدانو او طالبانو د پاره شجرهٔ قادریه، رضویه، عطاریه جوړه کړې ده، پهٔ کومه کښې چې مختلف اوراد او وظیفې او د طریقت شجره یعني د سلسلهٔ قادریه د ټولو بزرګانو ذِکر موجود دے-

## آیت مبارک

الله پاک فرمائیلي دي:

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِیْرًا ﴿۴۱﴾ وَّ سَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّ اَصِیْلًا ﴿۴۲﴾ (پارہ:22، سورۂ الاحزاب:42،41)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ایمان والؤ! الله ډیر زیات یادوئ- او سحر او ماښام د هغهٔ پاکي بیانوئ-

پهٔ دې آیت مبارک کښې پهٔ کثرت سره د الله پاک د ذِکر کولو فرمائیلے شوي دي- د کلمهٔ طیبه وِرد، د الله پاک تسبیح او (وظیفې) وغیره کول ټول د الله پاک ذِکر کول دي-[1]

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

آیا زهٔ تاسو ته داسې بهترین اعمال اونه ښایم؟ ✿ کوم چې د الله پاک پهٔ نزد ډیر پاک ✿ ستاسو د درجو د اوچتولو سبب ✿ ستاسو د پاره د سرو زرو د خیرات کولو او ✿ د کافرانو سره د جهاد کولو نه بهتر وي- عرض اوکړے شو: آؤ جي- اوئې فرمائیل: هغه عمل د الله پاک ذِکر کول دي-[2] ✿ پهٔ یو روایت کښې دي: سحر او ماښام د الله پاک ذِکر کول د جهاد او د خیرات کولو نه بهتر دے-[3]

---

[1] ... تفسیر صراط الجنان، پارہ:22، سورۂ احزاب، تحت الآیۃ:41، جلد8، بتغیر قلیل۔
[2] ... سنن ترمذی، کتاب الدعوات، باب ماجاء فی فضل الذکر، صفحہ:778، حدیث:3377۔
[3] ... الزہد لابن مبارک، الجزالتاسع، صفحہ:394، رقم:1116۔

## د اورادو او وظيفو په باره کښې مَدَني ګلونه

**(1)**: د اِستقامت سره اوراد او وظيفې لوستل مستحب دي- [1] **(2):** کله چې هم څهٔ وظيفه کوئ نو د ثواب پهٔ نيت يې کوئ او هغه د **الله** پاک پهٔ بارګاه کښې د حاجت د غوښتو د پاره وسيله جوړه کړئ- که صرف پهٔ دې نيت مو وظيفه اوکړه چې زما کار پوره شي نو دا جائز ده خو د دې ثواب به نهٔ کيږي - **(3)**: وظيفه دې صرف د جائز کار د پاره اوکړے شي د ناجائزه کار مثلاً د ښځې او خاوند ترمينځه د جګړې وغيره د پاره وظيفه کول حرامه او ګناه ده- [2] **(4)**: اوراد او وظيفې بے اودسه هم لوستلے شي خو بهتره دا ده چې اودس اوکړے شي- **(5)**: د کومو اورادو او وظيفو د پاره چې شميره ټاکلے شوې ده هغه دې هم پهٔ **هُغه** همره شميره کښې ولوستلے شي، قصداً عمداً پکښې څهٔ کمے زياتے کول نهٔ دي پکار- [3]

## د اورادو او د وظيفو فائدې

✿ د اورادو او وظيفو کولو سره روحانيت زياتيږي ✿ د اورادو او وظيفو سره مشکلات حل کيږي، بلاګانې لرې کيږي او پهٔ رزق کښې برکت راځي ✿ اوراد او وظيفې کول د **الله** پاک د ذِکر يوه ښکلې طريقه ده او ✿ دا د کامِل اِيمان نخښه ✿ د دُنيا او د اخرت د خير موندلو ✿ د **الله** پاک د عذاب نه د نجات ميلاؤيدو ✿ د درجو د اوچتيدو او ✿ د زړهٔ د صفايئ سبب دے [4] ✿ اوراد او وظيفې کول د **الله** پاک پهٔ بارګاه کښې د دُعا کولو بهترين انداز دے او ✿ دُعا د عبادت مغز او ✿ دُعا د رحمت کُنجي ده ✿ دُعا د مسلمانانو وسله ده ✿ دُعا د دِين ستن ده ✿ دُعا د زمکې او د

---

[1]... شرح مسلم للنووی، کتاب صلاۃ المسافرین، باب صلاۃ الیل ومن نام... الخ، جلد:2، جز:6، صفحہ:33، حدیث:1739۔
2... فتاوی رضویہ، جلد:23، صفحہ:398، ملخصًا۔
[3]... بہار شریعت، جلد01، حصہ 3، صفحہ 539، ملخصًا۔
[4]... تفسیر صراط الجنان، پارہ:2، سورۂ بقرہ، تحت الآیۃ:152، جلد:1، صفحہ:143، ملخصًا۔

اسمان نُور دے ❁ دُعا بلاګانې لرې کوي-[1]

## د طريقت د مشائخو د شجرې مبارکې د لوستلو فائدې

❁ د شجرې مبارکې د روزانه لوستلو سره د خپلې طريقت د سلسلې د ټولو بزرګانو نومونه ياديږي کوم چې يقيناً سعادت مندي ده ❁ د شجرې مبارکې د لوستلو سره د **الله** پاک د نيکانو بندګانو ذِکر کيږي او ❁ د صالحانو د ذِکر کولو سره رحمتونه نازليږي ❁ اِيمان تازه کيږي او ❁ د **الله** پاک قُرب نصيب کيږي ❁ نوم پۀ نوم د خپلې سلسلې مشائخو ته د اِيصالِ ثواب کولو موقع نصيب کيږي ❁ د شجرې مبارکې د لوستلو سره د خپلې سلسلې د مشائخو ذِکر او هغوئي يادولے کيږي نو کله چې د خوشحالۍ پۀ ورځو کښې هغوئي يادولے شي نو د مصيبت پۀ ورځو کښې به د هغوئي په وسيله مصيبتونه لرې کيږي-

## د اورادو او وظيفو نۀ کولو نقصان

اوراد او وظيفې نۀ کول د ډيرو فضيلتونو او ثوابونو نه د محرومه کيدو سبب دے- پۀ حديثِ پاک کښې فرمائيلے شوي دي: جنتيانو ته به د هغه ساعت نه علاوه پۀ هيڅ څيز باندې ارمان نۀ ورځي پۀ کوم کښې چې هغوئي د **الله** پاک ذِکر نۀ وو کړے-[2]

## د شجرې شريف او د اورادو او وظيفو د عادت جوړولو د پاره

❁ د شجرې مبارکې او د اورادو او وظيفو برکتونه پۀ نظر کښې ساتئ ❁ پۀ ثواب باندې نظر لرئ! بعضې خلق يو څو ورځې وظيفه اوکړي او پريشانه شي چې کار خو نۀ کيږي او وظيفه پريږدي د حاجت پوره کيدو پۀ ځائے د ثواب پۀ نيت باندې وظيفه کوئ چې اګر که د څۀ مودې پورې حاجت پوره هم نۀ شي خو که **الله** پاک وغوښتل نو ثواب به ميلاؤيږي ❁ وخت مقرر کړئ! مثلاً د سحر د نـمونځ نه پس د څۀ وخته پورې پۀ

[1] ...ماہنامہ فيضان مدينہ، جون / جولائی 2018، صفحہ: 5، ملخصًا۔
[2] ...شعب الايمان، العاشر من شعب الايمان، باب في محبۃ اللہ، فصل فی ادامۃ ذكر الله جلد: 1، صفحہ: 363، حديث: 512۔

جومات کښې ایسار شئ او وظیفه اوکړئ ❁ پۀ شروع کښې د اوراډو اوراډو وظیفو کولو پۀ ځائے ورې ورې وظیفې کوئ! پۀ شروع شروع کښې د اوراډو اوراډو وظیفو د شروع کولو سره کیدے شي چې اِستقامت حاصل نۀ شي ❁ روزانه د تفسیر اوریدو او بیانولو پۀ حلقه کښې شرکت کوئ! پۀ دې حلقه کښې د تفسیر د درس نه پس شجره مبارکه لوستلے کیږي۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن مونږ د نیک عمل نمبر: 7 مطابق د اورادو او وظیفو پۀ موضوع باندې څۀ ور معلومات حاصل کړل، نیت اوکړئ چې روزانه به څۀ نا څۀ اوراد او وظیفې ضرور کوو۔ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!

اللّٰه پاک دې د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## د ښودلو او زده کولو پۀ حلقو کښې یادولو والا دُعا

### د کُفر او غریبۍ نه د پناه غوښتو دُعا

### اَللّٰهُمَّ اِنِّيْۤ اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ

ترجمه: اے اللّٰه! زۀ د کُفر، غریبۍ او د قبر د عذاب نه ستا پناه غواړم۔

## د اِجتماعي جائزې طریقه (72 نیک اعمال)

### د روزانه 56 نیک اعمال:

(1): آیا ښه ښه نیتونه مو کړي؟ (2): آیا پینځه واړه نمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آیا د هر نمونځ نه مخکښې مو د نمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آیا د شپې مو سُوْرَةُ الْمُلْك لوستلے یا اوریدلے؟ (5): آیا د هر نمونځ نه پس مو آیة الکرسی، تسبیحِ فاطمه،

سُوْرَةُ الْاِخْلاص لوستلے؟ (6): آيا د کنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلې يا اوريدلې؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلې؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلې؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلې؟ (11): آيا د فضول نظر نه پۀ بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکـتـبة الـمدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آيا پۀ تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې کړې؟ (18): آيا پۀ مکـتـبة الـمدينه بالغان کښې مو لوستلې، يا مو ښودلې؟ (19): آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پۀ دوو ګينټو کښې کور ته رسيدلې يئ؟ (20) : آيا دوه ګينټې مو پۀ ديني کارونو باندې لګولې؟ (21): آيا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاخول کړې؟ (22): آيا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آيا پۀ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو د پريښودو پۀ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آيا يو موټے ګيره مو پريښودې؟ (28) : آيا د ګناه کولو پۀ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آيا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آيا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آيا ځۀ نا ځۀ مو پۀ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آيا د ماسپښين سنتِ قبليه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړې؟ (33): آيا تهجد يا صلوٰةُ اللّيل مو ادا کړې؟ (34): آيا د اَوَّابِيْن يا اِشْرَاق او څاخت نـمونځ مو کړے؟ (35):آيا د مازديګر يا د ماسخوتن سُنتِ قبليه مو ادا کړې؟ (36): آيا پۀ 12 ديني کارونو کښې مو د يو ديني کار ترغيب ورکړے؟ (37) : آيا د نورو نه غوښتلے شوي څيزونه خو مو اِستعمال کړي نۀ دي؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آيا د ځۀ وخت د پاره

مو مَدَني چينل کتلے؟ (40): آيا ذاتي دوستي خو مو نۀ ده کړې؟ (41): آيا پۀ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آيا د عاجزئ داسې الفاظ خو مو نۀ دي وئيلي کوم چې زړۀ نۀ دي منلي؟ (43): آيا د صفايئ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آيا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانولو پۀ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آيا د څۀ نا څۀ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئيلې؟ (47): آيا چوک درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او مرشد ته مو ايصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو کړې؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آيا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آيا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آيا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او پۀ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آيا عمامه شريف مو پۀ سر کړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدينه کارکردګي

❁ پۀ ليکلو خبرې کول 12 کرته ❁ پۀ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ❁ پۀ سترګو کښې د سترګو اچولو بغير خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نيک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو ځوک اِسلامي خور د کور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا پۀ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آيا يومِ تعطيل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آيا د مريض يا غم زيلي تپوس يا غم خورې او د چا پۀ وفات کيدو مو تعزيت [لاس نيوه] کړې؟ (62): آيا پۀ هفته کښې مو پۀ يوه

ورځ کښې روژه نیولې؟ **(63)**: آیا هفته واره رساله مو لوستلې یا اوریدلې؟ **(64)**: آیا علاقائي دوره مو کړې؟ **(65)**: آیا مخکښې راتلونکي او اوس د نهٔ راتلونکو اِسلامي ورونو مو د دیني ماحول سره تړون پیدا کړو؟